سال سوم شماره پنجاه و یکم
شمـــاره مسلسل ۱۳۱
یکشنبه ۲۵ حوت ۱۳۸۱ هـ. ش
۱۳ محرم الحرام ۱۴۲۲ هـ.ق
16 March 2003

DAILY اراده

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

عده یی از عودت کننده گان دست به تظاهرات زدند

طی یکسال هیچ گونه کمکی برای ما صورت نگرفته است

شماری از خانواده های مهاجرین برگشت کننده از کشور های ایران و پاکستان دیروز در اعتراض به نداشتن سر پناه و عدم توجه مقامات دولت در کابل بابه راه اندازی تظاهرات خواستار حل مشکلات شان گردیدند. تعداد این مهاجرین که در ساحه چمن حضوری اجتماع کرده بودند. به حدود پنجاه تن می رسید. این مهاجرین که خود را از باشنده گان اصلی ولایت کابل معرفی نمودند گفتند که طی یک سال گذشته برای آنان از جانب دولت و سازمانهای خیریه بین المللی کمک صورت نگرفته است یکی ازین مهاجرین به رادیوی آزادی گفت که آنان زمستان سرد را در زیر خیمه ها و یا اتاق های بی درو کلکین سپری کرده اند و تابستان داغ انتظار آنان را می کشد. وزارت امور مهاجرین افغانستان تا کنون در مورد اجرای خواسته های این مهاجرین تبصره نکرده است

د چاودنې په تور درې تنه ونیول شول

د ننګرهار امنیتي چارواکو ویلي چې دوی دغه چاودنې په تور درې تنه نیولي چې درې ورځې مخکې د تورې بوړې او جلال آباد د لارې تر منځ تر سره شوه.

دغه چاودنه د BBC د تلویزیون د خبریالانو په یوه کاروان تر سره شوې وه. دوی له تورې بوړې څخه جلال آباد ته بېرته ستنیدل.

توره بوړه هغه غرنۍ سیمه ده چې د تېر کال په منې کې د طالبانو او القاعدې د پلویانو په ځاله بدله شوې وه، او اوس یې د بهرنیو ژور نالیستانو پـ خان ته اړولی دی.

د ملي اردو دوه لواوې جوړې شوې

د افغانستان د ملي اردو د بیا جوړولو په لړ کې ددغه اردو دوه لـواوې جـوړې شوې.

دغه لواوې له هغو شپږو کنډکونو څخه جوړې شوې دي چې د روزنې چارې یې د ISAF یا نړیوال سوله ساتي ځواك او نړیوالو ائتلافي ځواکونو له خوا تر سره شوې دي.

ددغو لواوو د غونډې پر مهال ولسمشر حامد کرزی دا کار د ملي اردو د جوړښت لپاره مهم او لومړی ګام وبللو.

په دغه غونډه کې د نړیوالو ائتلافي ځواکونو مشر ډان مکنیل هم حضور درلـود.

غله د پولیسو په جامو کې موټر دروي

د نیمروز دلارام او نیمروز هلمند د لویو لارو موټر چلوونکي او سپرلي پر دغو لارو له غلو او داړه مارانو سر ټکوي

دغه موټر چلوونکي وایي چې په لارو کې غله د پولیسو په جامو کې دریږي او موټر دروي. خلك ځوروي او شتمنۍ یې لوټوي، دوی وایي چې دوی په دې اړه څو ځلې د سیمو امنیتي واکمنو ته شکایت کړی دی خو لا تر اوسه ددغو داړه مارانو مخه نیول شوې نه ده.

در حمایت از صدام حسین

دهها هزار تن از عراقیان دیروز در بغداد و شهر های دیگر عراق گردهم جمع آمده و علیه جنگ احتمالی بر عراق به رهبری امریکا دست به تظاهرات زدند.

در تظاهراتیکه از طرف حزب بر سر اقتدار بعث ساز ماندهی شده بود مظاهره کننده گان جنگ را تقبیح نموده و از صدام حسین رئیس جمهور عراق حمایت کردند. در این تظاهرات گروهی از زنان ملبس با لباس های بمب گزاران انتحاری اشتراک داشتند. این تظاهرات زمانی صورت میگیرد که مقامات به بحث شان روی قطع نامه پیشنهادی شورای امنیت ادامه میدهند.

په کنړ کې ناروغیو پنځلس کسان وژلي دي

د کنړ ولایت د ناړي ولسوالی یو پلاوي کابل ته راغلی دی او ویلي یې دي چې په تیرو دوه اونیو کې په دغه ولسوالی کې بېلابېلو ناروغیو د پنځلسو څخه تر پنځه ویشت کسان وژلي دي.

ددغه پلاوي ویاند عاشق وایي چې دغه مړه شوي کسان زیاتره دو با (کلورا) له لاسه او یا هم هغه ښځې دي چې د زیږون پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکوي. دده په وینا چې ددغه ولایت په لرې پرتو سیمو کې روغتیایي حالت د اندیښنې وړ دی.

خو په کابل کې د عامې روغتیا د بنسټیزو روغتیایي خدماتو رئیس ډاکټر محمد علی دردمل په دغه ولایت کې له وروستیو مړینو څخه ناخبري ښکاره کوي او زیاتوي چې په دغه ولسوالی کې د عامې روغتیا د وزارت یو صحي کلینك هم کار کوي.

پر پاکستان لګول شوي بندیزونه لیرې کېږي

د متحده ایالاتو ولسمشر جورج ډبلیو بوش پر پاکستان هغه لګول شوي اقتصادي بندیزونه لیرې کړل چې په ۱۹۹۹ میلادي کال کې پر دغه هېواد د امریکا له خوا لګول شوي وو.

د سپینې ماڼۍ ویاند ویلي چې ښاغلي بوش دغه اعلان د جمعې په ورځ وکړ. ددغه ویاند د وینا له مخې به دا کار په پاکستان کې د دیموکراسۍ په بیا راستنولو او تروریزم ضد جګړه کې مرسته وکړي. همدا شان متحده ایالاتو ژمنه کړې چې له پاکستان سره به مالي مرسته کوي تر څو په قبایلي سیمو کې اصلاحات راولي.

پر پاکستان دغه بندیزونه هله ولګول شول چې په ۱۹۹۹ میلادي کال کې اوسني ولسمشر پرویز مشرف د سپینې کودتا په ترڅ کې واك له میانواز شریف څخه تر ګوتـو کړ.

د لوی او ښیونکي خدای په نامه

سرمقاله

نو روز معبری به سوی زیست با همی

برای انکشاف و گسترش فرهنگ صلح و زیست با همی، در یافت و شناخت، همان ارزش های در جامعه مهم است که مردم در آن مشترکاتی را دریابند و یا خود را به نحوی در آن سهیم بدانند.

توجه به جشن نوروز و اقدام به برگزاری شایسته این جشن رسماً از سوی حکومت، در حقیقت مبین ارج گزاری به یکی از ظرفیت های بزرگ صلح و با همی اقوام این سر زمین است که متاسفانه، طی سال های اخیر از سوی طالبان تحریم و تجلیل از آن قدغن گردیده بود.

واقعیت اینست که سال های جنگ، به بسیاری از اسلوب ها و روابط مشترکی که در کلیت فرهنگ جامعه را میساخت، آسیب های وارد آورد و چه بسا که در نبود و از هم پاشیده گی این ارزش ها، جنگ زنده گی کرد و حتی تداوم یافت.

مسلماً در همه اجتماعات، ظرفیت های بسیاری برای تامین صلح دوامدار وجود دارد. سمبول ها، مناسبت های ملی، آبدات، تاریخ، تجربه مشترک، ارزش های مشترک، عادات، تفکر، ادبیات، موسیقی، پیوسته گی های اقتصادی، همه می توانند معبر های خوبی برای صلح و پیونددهی مردم باشند.

خوشبختانه در کشور ما، ظرفیت های عظیمی برای بالنده گی یک فرهنگ پر بار ملی وجود دارد که باید از این ظرفیت ها، در راستای ایجاد وحدت و ثبات پایدار سود جست که دریافت، شناخت، باروری و ارجگذاری به این ظرفیت ها. نه تنها وظیفه حکومت، بلکه وجیبه، فرد فرد باشنده گان این آب و خاک می باشد.

سه تن در کندهار دستگیر شد

موظفین امنیتی در ولایت کندهار سه تن را به اتهام رهزنی باز داشت کرده اند.

مسوولین امنیتی در کندهار به آژانس باختر گفته اند که این سه تن را که از ساکنان ولسوالی میوند آن ولایت اهستند با یک عراده موتر، یک میل تفنگچه، مقداری مرمی کلاشینکوف و بمب دستی دستگیر نموده اند.

در خبر آمده است که این سه تن در امتداد جاده عمومی ولسوالی میوند دست به آزار و اذیت مردم می زدند، در مورد اینکه این سه تن با کدام گروه و تنظیم وابسته اند چیزی گفته نشده است. اما مقامات امنیتی کندهار گفته اند که تحقیقاتی را در مورد رابطه احتمالی این افراد با گروه ها و شبکه های خاص آغاز کرده اند.

در کجای این تصویر "باز سازی" را سراغ گیریم. اگر واقعاً باز سازیی در جریان بود. مطمیناً این جوانان در کنار جاده ها برای دوخت و پالش بوت های لیلامی بار بار پاشده. چنین گلا ویز نمی بودند.

B_1 ډوله الوتکو پر عراق بمونه وغورځول

د امریکا پوځي سرچینو ویلي چې د دوی B_I ډوله اوږده واټن ویشتونکو الوتکو د عراق جنوبي سیمه بمبار کړې ده.

امریکا وایي چې عراق خپلو جنوبي پولو ته د رادار خوځنده سیستم انتقال کړی دي او دا سیمه د پروازونو ممنوعه سیمه ده.

په ۱۹۹۸ میلادي کال کې B_I ډوله الوتکو په عراق څلور ورځې بمباري کړې وه او له هغې نېټې وروسته دا لومړی ځل دی چې د امریکا دا ډول الوتکې پر عراق بمباري کوي.

د پنتاګون مامورین وایي چې عراق خپلو جنوبي سیمو ته د رادار داسې خوځنده سیستم وړي دي چې له مخکې څخه هوا ته توغندي هم توغولی شي.

ترخه خوره، خو ترخه مه وایه

غروال:

ترخې خبرې کول او ترخه ویل د مقابل لوري د زړه بداوي سبب کیږي ځکه ترخه د خوږو ضد کلمه ده او په هرځه کې چې تریخوالی زیات وي نو منفي اثرات یې زیات محسوس وي، له دې امله انسان کوښښ کوي له خولې ځخه داسې خبره ونه باسي چې د نورو وګړو د زړه بداوي وړ وګرځي بلکې همیشه زیار باسي په نورو باندې د خپلې خبرې د منل کیدو لپاره داسې الفاظ په داسې خواږه انداز کې استعمال کړي چې اوریدونکي ته د منلو وړ وي.

پورتنی پوښتو متل هم له همدې امله ویل شوی دی، په دې متل کې زموږ لپاره یو ستر درس پروت دی داسې درس چې موږ ته په اجتماعي ژوند کې زیاتې بریاوې را په برخه کوي، زموږ ترمنځ د مینې او ورور ګلوی ریښې پیاوړې کوي او موږ په هغه لار سموي چې زموږ د اجتماعي ژوند د نیکمرغی او هوسایی متضمنه ده، ښې او خوږې خبرې لکه د شاتو مثال لري چې د هر ناروغ لپاره شفا ورکوونکې وي. دغه شان خوږې خبرې هم د هر ډول قهریدلي انسان قهر او غضب سړوي او خپګان یې په خوشالی بدلوي.

انسان خو هسې هم له خولې ځخه خبره باسي. خو لازمه ده چې د خبرې د ایستلو په وخت فکر وکړي چې آیا دا خبره چې دی یې له خولې ځخه باسي د چا د خپګان او قهر سبب خو نه کیږي، که چیرې د اوریدونکي او مقابل لوري د احساساتو د ژوبلیدو سبب کیږي. که چیرې نزاکت ترې پیدا کیږي او که چیرې اجتماعي ستونزې او کشمکش پیدا کوي، نو بیا خو یې له ویلو ځخه نه ویل بهتر دي. نو باید په داسې الفاظو کې خپل مطلب افاده کړي چې له یوې خوا خپل پیغام نورو ته ورسولی شي او له بلې خوا د چا د زړونو د بداوي سبب ونه ګرځي.

افغانان تربل هر چا زیات په دې نزاکت ښه پوهیږي ځکه خو نو هر افغان زیار باسي چې د صحبت او خبرو په وخت دغه نزاکتونه په پام کې ونیسي ځکه افغانان په دې پوهیږي چې د تورې زخم به جوړ شي خو د ژبې زخم نه جوړیږي او د ژبې زخم زیاتې اجتماعي ستونزې له ځانه سره لري، نو ددغه اصل له په پام کې نیولو سره موږ ټولو ته لازمه ده چې د تاریخ په دې حساس پړاو کې چې د دوامدارو زخمونو د ټکورولو وخت رارسیدلی دی د ژبې په ذریعه د نورو زخمونو د پیدا کیدو سبب ونه ګرځو او په دې توګه په خپل اجتماعي ژوند کې ورو ورو مثبت تحرک او خوځښت منځ ته راوړو.

لوی او مهربان خدای (ج) دې موږ ته ددې توفیق راکړي چې خپلې ژبې په داسې خبرو وخوځوو چې زموږ ترمنځ د خوږې وروری له لا پیاوړتیا سره مرسته وکړي، موږ یو بل ته لا زیات سره نږدې کړي او زموږ په زړونو کې له یو بل سره مینه لا زیاته کړي، نو هغه وخت موږ په داده زړه دا ادعا کولای شو چې موږ دیوې نیکمرغه ټولنې خاوندان یو او موږ کولای شو چې ددغه اصل له په پام کې نیولو سره د یو بل په مرسته ټول اجتماعي مشکلات له منځه یوسو.

د تورې زخم به جوړ شي خو د ژبې زخم نه جوړیږي او د ژبې زخم زیاتې اجتماعي ستونزې له ځانه سره لري، نو ددغه اصل له په پام کې نیولو سره موږ ټولو ته لازمه ده چې د تاریخ په دې حساس پړاو کې چې د دوامدارو زخمونو د ټکورولو وخت رارسیدلی دی د ژبې په ذریعه د نورو زخمونو د پیدا کیدو سبب ونه ګرځو او په دې توګه په خپل اجتماعي ژوند کې ورو ورو مثبت تحرک او خوځښت منځ ته راوړو.

بخش دوم

اتفاق و صمیمیت ملی

قسمت دوم

ص. و از: پوهنتون مکماستر کانادا

تشنج بین مجاهدین و مسلکیان برگشته از غرب:

یکی از عواملیکه اتفاق و صمیمیت ملی را در سطح حکومت و بیرون از آن تهدید میکند بی انصافی متقابل بین مجاهدین سابقه و مسلکی های است که از کشور های غربی برگشته اند. روابط این دو گروپ را عوامل زیر برهم زده اند:

۱_ هر دو گروه برای یکدیگر تاپه های مبالغوی وغیر منصفانه دارند. مثلاً مسلکی های غیر جهادی، بی انصافانه همه جهادیانرا تفنگ سالار (کسیکه از تفنگ برای ظلم، تجاوز و دزدی استفاده کرده است) نامیده، جنایاتیرا که عده محدود مرتکب شده اند گناه تمام مجاهدین دانسته و شهامت، قربانی و فدا کاری اخلاصمندانه مجاهدین در راه رفع تهاجم را نادیده میگیرند. اگر به عمق همچو قضاوت ها متوجه شویم می بینیم که بر معلومات ناقص و تعمیم بی جا اتکا دارد. به عین شکل مجاهدین سابقه تمام مسلکی های غیر جهادی را با بی انصافی بی دیانت و غربی مشرب میخوانند که این قضاوت نیز متکی است بر تعمیم های بی مورد و معلومات ناقص یاغلط. بنابر این انحرافات ذهنی هر یک ازین دوگروه بی انصافانه در صدد حذف همدیگر افتاده و برای رسیدن به این اهداف غلط حتی خود را در آغوش بیگانه گان افگنده اند.

۲_ اقلیتهای افراطی در هر دو گروپ وجود دارند که اتهامات در مورد شان صدق می کند. مثلاً هستند مجاهدین سابق که از سلاح برای جمع مال غصب دارائی مردم، قتل، را هزنی و تجاوز استفاده کرده و هنوز هم در تلاش همچو استفاده ها از قدرت نظامی خود هستند. همچنان در بین برگشته گان از غرب افرادی وجود دارند که به جای آوردن انکشاف و ترقی از بطن جامعه فکر و ذکر شان مصروف تقالید شکلی ایست که با اعتقاد، ارزش ها و مفاهیم عزت، ناموس و غیرت جامعه در تناقض شدید هستند.

بر مجاهدین و مسلکیان غیر مجاهد لازم است که شهامت لازم را در خود رشد دهند تا نقایص خود را قبول وشایسته گی های همدیگر را تصدیق و احترام نمایند و از قضاوتهای مبالغوی و تا په زدن ها بر همدیگر اجتناب نمایند. مجاهد باید بپذیرد که در پهلوی اینکه مهاجمین از کشور رانده شده قربانی های بی حساب داده شدند، جنگهای داخلی غیر ضروری بین مجاهدین واقع شدند و جنایات صورت گرفتند. بر مجاهدین لازم است که مسلکیان را ثروتهای کشور خود، کشوریکه با خون از آن دفاع شده است. دانسته به دیده قدر بنگرند و قبول کنند که عده زیادی از مسلکی ها شخصیتهای لایق، خدمتگار و مسلمانان خوب هستند. بر مسلکی های غیر مجاهد لازم است تقدس جهاد را قدر و احترام کنند و بپذیرند که بعضی از برگشته گان از غرب ترقیخواهان افراطی اند. انکشاف وپیشرفت را به غلط با غربی شدن یکسان میدانند و با تقالید سطحی نگرانه خود فرصت بدست آمده برای انکشاف اقتصادی و اجتماعی را به مخاطره مواجه می سازند.

رفع این تشنج برای بهبود ا تفاق و صمیمیت ملی ضروریست ولی وقت و زحمت را ایجاب میکند. رهبری حکومت، موسسات، پوهنتونها و موسسه ملل متحد در فکر مجلس های "راه حل یابی" و مشورتی شوند تا سؤتفاهمات رفع و تدابیر علاجی سنجیده شوند.

ج: حق الجهاد وحق المقاومت:

بعضی ها به خاطر ادای فرض خداوندی یا مسوولیت انسانی شان امتیازات استثنائی میطلبند. اگر کسی به خاطر ادای نماز یا تلاوت قرآن عظیم الشان از مردم توقع داشته باشد که بر شانه های خود سوارش کنند در اشتباه است. به همین منوال کسیکه جهاد در راه خداوند (ج) را به حیث فرض به سررسانیده است نه باید به عنوان "حق الجهاد" توقع امتیازات فوق العاده و استثنائی داشته باشد. همین منطق در مورد سایر خدمات برای مملکت و مردم مثلاً "حق المقاومت" قابل تطبیق است. در غیر آن هر آنکه مصدر خدمتی برای وطن گردیده توقع سوار شدن برشانه های ملت را خواهد داشت. از طرف دیگر خواستن و به زور گرفتن امتیازات استثنائی سلسله نوبتهای نامشروع و انتقامجویانه را دوام خواهد داد. زیرا آنانیکه به خاطر امتیازات استثنائی از حقوق شان محروم اند در انتظار نوبت خواهند نشست ووقتی نوبت قدرت برایشان رسید دیگر انرا محروم کرده و این سلسله نوبتها و محروم کردنها دوام خواهد یافت.

بزرگترین خدمت برای آنانیکه در راه خدا (ج) و وطن و مردم قربانی داده و یا حاضر به قربانی اند این خواهد بود که سیستمی ایجاد گردد که مطابق قانون حقوق همه تأمین باشند و سلسله تخریبی جبر و انتقام پایان یابد.

سیستمی که در آن به قدرت رسیدن یگانه راه تأمین حقوق نه باشد و ضرورت اینکه گروهها علیه یکدیگر به دسایس، توطه ها و چالبازی ها متوصل گردند از بین رفته باشد. در همچو یک سیستمی است که رقابت سالم و اثبات قابلیت و خدمتگذاری به را ههای به قدرت رسیدن مبدل شده میتوانند.

په افغانستان کې د قدرت د خلا ستونزه

رحیمي

د قدرت د خلا اصطلاح هغه وخت په افغانستان کې مطرح شوه چې لس دولس کاله مخکې زوړ نظام مخ په ړنګیدو او د نوی نظام له پاره هیڅ ډول تدابیر نه وو نیول شوی.

په هغه وخت کې د افغانستان اکثره خلك ددغی اصطلاح په مطلب ښه نه پوهیدل او ځینو خو به لا په دی خبره ملنډی وهلی او تعجب به یې کاوو چې د قدرت خلا لاځه ته وایې. ځینو بیا داسی فکر کاوو چې قدرت خو د ټانك او ټوپك په خوله کې وی چې ښه پریمانه او بی شمېره موجود دی. خو له لنډی مودی وروسته ټول په دی حقیقت پوه شول چې "په زور کلی نه کیږی" او هغه خلا چې دولس کاله مخکې په افغانستان کې رامنځ ته شوه تر اوسه پوری نه تنظیمونو په توغندیو ډکه کړی شو، او نه طالبانو په دُرو او دلاسونو او پښو په پریکولو. ددغی خلا د ډکولو له پاره قانون، د قانون رعایت او د ړنګ شوی نظام بیا را ژوندی کولو ته اړتیاوه اوسنی انتقالي دولت هڅه وکړه چې ددغی خلا د ډکولو له پاره د ۱۳۴۲ کال اساسی قانون د موقتی دوری له پاره نافذ او اعلام کړی اما ددغی خلا دوه نور اساسی بنسټونه چې ددغه نافذ شوی قانون رعایت او د نظام جوړول دی لاهم عینی واقعیت نه لری او دغه خلا اوس هم په ټولو ابعادو سره موجوده ده. ځکه ترهغه وخته پوری چې د نظم او ټولنیز عدالت د تامین تهدیدونکی او مخرب عوامل له منځه یونووړل شي د قدرت دغه خلا به په خپل ټول توان او قدرت سره پخپل ځای پاتی وی.

زور ګویی، له غیر مسئولو کسانو سره د وسلی موجودیت او له قانون ځخه تېښته ټول هغه عوامل دي چې د یوې دموکراتیکي، مدني او په قانون باندې ولاړې ټولنې د جوړېدو د لارې خنډونه جوړوي.

زور ګوئی، هغه عامل دی چې د وسلی په قوت قانون تر خپل واك لاندی نیول کیږی او په خپله خو ښه او خپله ګټه ورته تعبیرونه او تفسیرونه جوړیږی او له قانون ځخه تیښته په دی معنی راځی چې د قانون تطبیقونکی ارګانونه د قانون د تطبیق توان ونه لری. دا کار ددی سبب ګرځی چې یو شمېر ډلې ټپلې، ګروپونه او اشخاص په اسانی سره قانون تر پښو لاندې کړي او په ټولنه کې د ځنګل قانون حاکم شی چې ددی ټولو نتیجه د قدرت د خلا سبب ګرځي.

د مدنی یا ولسواکی ټولنی په تعریف کې ویل کیږی: "مدنی او ولسواکه ټولنه هغه حوزه ده چې د قانون په رڼا او واکمنی کې له مستقلو بنسټونو ځخه جوړه شوی وی" د قانون نشتوالی او یا قانون ته بی احترامی په حقیقت کې له قانون ځخه تیښته او پایلی یې د قدرت خلا او د داسی شرایطو راتلو ته لاره اواروی دی چې هر څوك له قانون ځخه د ځان په ګټه جلا جلا تفسیرونه ولری او په پای کې د ضوابطو پر ځای د روابطو، دعام ګرائي په ځای د خاص ګرائي حاکمیت. د قانون په وړاندی نابرابری د قانون او واقعیتونو ترمنځ واټن او د قانون او مقرراتو ناسمه اجرا دهغو عواملو مجموعه جوړوی چې په جدی توګه د قانون د تطبیق د لارې خنډ ګرځی.

دغه راز باید وویل شی چې د سیاسی، اقتصادی او اجتماعی حقوقو تامین د نورو د ساتیرو په شان له پاس لوری ځخه د تضمین او پراختیا وړ نه دی. له کومه ځایه چې په مدنی او ولسواکه ټولنه کې قانون جوړونکی له ټولنی ځخه الهام اخلی نو له قانون ځخه د تیښتی مسله منتفی کیږی او د ځواب ورکولو فرهنګ تسلط پیدا کوی.

د قانون د موجودیت او دهغه د رعایت له ټولو ځخه مهم ارزښت دادی چې د افرادو او بېلابېلو اتنیکی ګروپونو د حقوقو تضمین په دوام داره او همیشنی توګه قانونی بنسټ مومی او حقوق په قانونی توګه ورکول کیږی نه د اخلاقی او فردی توصیو په واسطه او نه د زور او تشدد له لاری.

په دی اساس لیدل کیږی چې قانون ته احترام او د قانون په سیوری کې ژوند د ټولو په ګټه دی او هیڅوك د خپل حق د ترلاسه کولو له پاره زور وهلو او تیل ماتیل ته نه اړکیږي.

زور ګویی، له غیر مسئولو کسانو سره د وسلی موجودیت او له قانون ځخه تېښته ټول هغه عوامل دي چې د یوې دموکراتیکي، مدني او په قانون باندې ولاړې ټولنې د جوړېدو د لارې خنډونه جوړوي.

د بیا رغونې په لور

د مخ چلو ونکی : اباسین

هند در افغانستان سرک وپل اعمار می کند

دولت هند در مناطق جنوب غرب افغانستان سرک ها وپل های تخریب شده را باز سازی میکند یک منبع سازمان مواصلات هند درین مورد افزود که هیأت چند نفری هند قبلاً به دعوت دولت انتقالي افغانستان از مناطق همجوار ایران باز دید نموده و سروی شان را انجام داده اند. قرار است که این پروژه منطقه دل آرام را با سرحد ایران وصل کند.

سازمان سرک سازی هند علاوه کرد این پروژه روابط افغانستان را با هند قوی ترمی سازد و همچنان با تکمیل این پروژه مشکلات ترانزیتی افغانستان که فعلاً با ایشان مواجه است کمتر خواهد شد. طبق یک خبر دیگر سفیر دولت هند مقیم کابل با وزیرصنایع خفیفه و مواد غذائی محترم عالم رزم طی یک ملاقات وعده نموده که دولت هند در بازسازی پارک صنعتی کابل هکاری خواهد کرد. سفیر هند علاوه کرد که به همین منظور یک هیأت کارشناس هند به زود ترین فرصت وارد افغانستان خواهد شد.

د صنعت په بیا رغونه کې د پاکستان مرسته

موږ به هڅه وکړو چې د افغانستان سره د بیا رغونې په کارونو کې او په ځانګړي ډول د صنعت په رغونه او پرمختیا کې مرسته وکړو دا خبره د پاکستان د صنعت او عوایدو مرکزي وزیرښاغلي لیاقت علي جتوی د افغانستان د سوداګرۍ اتاقونو د یوې دېرش کسېزې ډلې سره چې پاکستان ته یې رسمي سفر کړی و کتنه یې وکړه. نوموړي وزیر زیاته کړه چې موږ به د صنعت په برخه کې د مسلکي کدرونو په روزلو کې هم لازمه همکاري وکړو او په ځانګړي ډول د بورې د فابریکو په جوړولو او ترمیم کې یې هم د مرستې وعده وکړه.

یاده دې وي چې افغانستان د (۱۹۷۹) کال شوروي یرغل او دهغې په تعقیب د (۱۹۹۲) کال تنظیمي جګړو څخه د مخه یوازې د کابل ښار په ختیځه برخه کې ترسلو زیاتې صنعتي فابریکې درلودلې همدارنګه په بغلان. کندز. ننګرهار. مزارشریف او نورو سیمو کې یې هم د. رخت. زیتونو. بورې او نورو محصولاتو فابریکې فعالې او په زرګونو هېوادوال پکې په کار بوخت وو. خو د بهرني یرغل او کورنۍ جګړې په مهال د افغانستان د اداري سیستم په څېر اقتصادی زېر بناوې هم ړنګې شوې.

ددې او دېته ورته نورو صنعتونو په فعالولو سره که له یوې خوا هېواد له اقتصادي پلوه ځواکمن کیږي نو له بله پلوه د زرګونو خلکو په بوختیدو سره د بې کارۍ کچه را کمیږي.

په هرات کې روغتیایي مرکز جوړ شو

له هرات څخه په راغلو راپورونو کې وایي چې د ایران اسلامي جمهوریت په مرسته د هرات په ښار کې د روغتیایي مرکز په جوړولو سره د ځایي خلکو په روغتیایي ستونزو کې یوڅه کموالی راغلی ایران تر اوسه د افغانستان په بیا رغونه کې یو لړ مرستې کړیدي چې د هغې تقریباً زیاته برخه یې په هرات. مزارشریف. بامیان او کابل کې ترسره شویدي.

په ګردیز کې د بیا رغونې پروژه پرانستل شوه

په پکتیا کې د تېر یوه کال په مهال کې د بیا رغونې کارونه په هغه اندازه چې د پکتیا د خلکو د قناعت وړوي نه دي ترسره شوي. د کابل پکتیا لویه لاره هومره ستونزمنه نده خو د پکتیا د بېلابېلو ولسوالیو ترمنځ لارې خورا خرابې دي. پدې وروستیو کې د امریکا د متحده ایالتونو ملکي او نظامي عملیاتو مرکز د بیا رغونې دفتر د ګردیز په ښار کې په کارپیل وکړ د نوموړي دفتر د افتتاح په مراسمو کې د افغانستان د انتقالي دولت د بیا رغونې چارو وزیرښاغلي دوکتورمحمدامین فرهنګ. په کابل کې د متحده ایالتونوسفیر رابرت فن او د پکتیا والي رازمحمد دلیلی په شمول ګڼو خلکو ګډون درلود.

د پکتیا خلک علاقمند دي چې د بیا رغونې کارونه په دغه سیمه کې پیل شي. شاړی منګل د اړیکیو آمر وایي: امریکې ځواکونه چې غواړي د بیا رغونې په کارونو کې برخه واخلي لومړی دې د قومي مشرانو سره مشورې وکړي همدارنګه ځایي اداره دې هم په جریان کې واچوي. خپلسري کارونه چې تر اوسه په بېلابېلو ځایونو کې ترسره شوي چندان د پام وړ نتایج یې ندي درلودلي. دا چې متحده ایالاتو په ګردیز کې د بیا رغونې ځانګړې دفتر پرانست موږ ډېر خوښ یو خو غوښتنه مو داده چې د بیا رغونې کارونه دې په واقعي بڼه ترسره شي نوموړي زیاته کړه موږ ته دې ښوونځې. کلینیکونه. پلونه او د برېښنا وسایل برابر کړي نوموړي همدارنګه غوښتنه وکړه چې دبیا رغونې کارونه دې یوازې د ګردیز په ښار پورې هم نه محدودوي ځکه ګردیز د ټولې پکتیا ځواب نشي ویلای. د پکتیا یو بل قومي مشر حاجي عبدالرحمن ځمکنی وایي دا چې له یوه کال وروسته اوس امریکا غواړي چې پکتیا کې د بیا رغونې کارونه پیل کړي دوی موږ ته داسې بنیادي کارونه نه ترسره کوي چې په رښتیا ډول زموږ ستونزې حل کړي نوموړي وویل په کومه اندازه چې د خلکو ضرورت او غوښتنه ده په هغه اندازه د بیا رغونې کارونه ندي ترسره شوي موږ هیله لرو چې موږ سره د اساسي ستونزو په حل کې همکاري وکړي

د پکتیا والي ښاغلي رازمحمد دلیلی د متحده ایالاتو د نظامي او ملکي عملیاتو د بیارغونې دفتر د پرانستنې په مراسمو کې وویل: په افغانستان کې د بیا رغونې کارونه له مرکز څخه پیل او په زیاته اندازه نورو سیمو ته انتقال شویدي چې پدې برخه کې له نېکه مرغه تر لوی پکتیا پورې هم راورسېدل نوموړي زیاته کړه د ښاغلي کرزي صاحب په هدایت د بیارغونې کارونه لومړی د پکتیا څخه پیل شو چې د جنوب زون د بیارغونې کارونه له یوه کال څخه خنډېدلي وُ په پراخه پیمانه به پیل شي

ښاغلي د پکتیا والي زیاته کړه: د متحده ایالاتو سفیر ته موږ ډاډ ورکوو چې په پکتیا کې امنیت ښه دی موږ به د بیا رغونې لپاره د مناسبې د ځواکونو سره مرسته وکړو ترڅو امنیت نور هم ټینګ او د بیا رغونې کارونه په خورا آرامی سره ترسره شي

د متحده ایالاتو سفیر رابرت فن هم دغه غونډې ته وینا وکړه نوموړي وویل: زما لپاره د ډېر ویاړ ځای دی چې د امریکا دمتحده ایالاتو د حکومت او خلکو په استازیتوب ددې ملکي او نظامي عملیاتو د بیارغونې په دفتر د پرانستلو په مراسمو کې ګډون کوم. زموږ تیم به په پکتیا کې د بیا رغونې کارونه کې برخه واخلي دا پخپله د افغانانو غوښتنې ته مثبت ځواب دی. په تېر کال کې د ملکي او نظامي قطعاتو. د لس ګونو زرو افغانانو د ژوند په ښه کولو کې مرسته کړیده ددې پروژې د کار په پیل سره د بیا رغونې کارونه څوبرابره زیات شي. یوازې د ګردیز په ښار کې د تېرکال اګست راهیسې د (۱۳) ښوونځیو د بیارغونې کارونه بشپړ شویدي چې ټول لګښت یې یوسل او شل زره امریکایي ډالرو ته رسیږي او په لسو ښوونځیو. درې څاګانو او یو کلینیک باندې کار روان دی چې مجموعي لګښت یې (۳۵۰) زره ډالره کیږي دا د بیارغونې له هغو بېلګو څخه دي چې په ټول افغانستان کې پیل شویدي.

همدارنګه د بیارغونې چارو وزیر ښاغلي دوکتورمحمدامین فرهنګ وویل کوم کارونه چې له نن څخه پیل کیږي په درې مرحلو کې به خپل اغېز پدې سیمه کې وکړي نوموړی اغېز یې دادی چې وروسته له ۲۴ کلو جګړو. وژنو او بد مرغیو څخه افغانستان د سولې او بیارغونې کارونو ته اړ بولو او دغه ویجاړۍ به په ودانیو بدلې کړو په دوهمه مرحله کې به د خلکو ذهنیت د جګړې څخه د سولې خواته راواړوو او دریمه او خورا مهمه مرحله یې داده چې خلکو ته ثابت کړو چې متحدین افغانستان ته د بیارغونې لپاره راغلي دي دوی نه غواړي چې زموږ هېواد اشغال کړي موږ هیله کوو چې دا پیل د اوږدې مودې د همکارۍ لپاره اساسي او تهدابي ډبره په حیث کار وکړي نوموړي وویل موږ غواړو چې د بیا رغونې کارونه په متوازن ډول په ټول هېواد کې پیل او ترسره شي د مرکز او ولایتونو ترمنځ به د اړیکو د تامین لپاره هم هڅې وکړو. نوموړي غوښتنه وکړه چې د افغانستان خلک د ټوپک په ځای بېل او د کاروسایلو باندې بدل کړي او د جګړېز پرمختګ څخه د بیارغونې کارونو د پرمختګ لپاره ګډې هڅې وکړي.

یونیسف اداره په افغانستان کې (200) ښوونځي جوړوي

د ملګرو ملتونو د یونیسف اداره په روان کال کې غواړي چې (۲۰۰) ښوونځیو په جوړولو سره افغانانو او په ځانګړي ډول هغه کوچنیانو ته له پاکستان او ایران څخه راستنیږي د زده کړې زمینه مساعده کړي. د یونیسف اداري ویاند کاروردن په کابل کې وویل چې نوموړي اداره به د ملګرو ملتونو د خدماتو اداري په همکارۍ او د ښوونې او روزنې وزارت په موافقه د بېرته ستنیدونکو کوچنیانو د روزنې لپاره دغه شمېر ښوونځي د افغانستان په بېلابېلو هغه سیمو کې چې کډوال ورته ستنیږي جوړ کړي ښاغلي کاروردن زیاته کړه په دغه پروژې به د سرته رسولو لپاره د (۸،۴) ملیونه ډالر پکار دي.

د ملي موزیم د بیا رغونې ډیپارټمنټ پرانستل شو

د انګلستان د برتس موزیم په همکارۍ د کابل د ملي موزیم د بیا رغونې لپاره ځانګړې ځانګه پرانستل شوه ددې ځانګې د پرانستلو په مراسمو کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوري معین ښاغلي غلام رسول یوسفزي په خپله وینا کې د کابل موزیم د بیا رغونې له امله د انګلستان د مرستو څخه مننه وکړه همدارنګه په کابل کې د انګلستان د سفیر مرستیال وویل موږ به هڅه وکړو چې د انګلستان د فرهنګي شورې او د هند د اطلاعاتو او کلتور وزارت په مرسته د موزیم د بیا رغونې ترڅنګ د موزیم د پرسونل د روزلو لپاره هم لنډمهالي روزنیز سیمینارونه دایر کړو.

له ژوند څخه تېښته

روښان

زړه نا زړه و، یو ځل به یې واده ته د تګ تکل وکړ، خو بیا به یې د ځانه سره وویل: د دومره غمونو او کړاوونو سره خوشحالي او واده ته تګ، په کومه خوشحالی کې د خوشحاله خلکو سره ناسته.

په ځم او نه ځم کې، په قراره د ځایه پاڅېد، خولی او پټو یې واخستل، د کوټې څخه ووت، او مخامخ د کور د لویې دروازې خواته وخوځېد. او د واده د ځای لاره یې ونیوله، په ټوله لاره کې یې تېر شل کلن ژوند، ورته د فلم د صحنو په څېر تر سترګو تېرېده، هغه وخت چې ده خپل لوړې عالي زده کړې پای ته ورسولې، بیا هغه وخت چې دی په دولتي کار وګمارل شو، واده یې وکړ او دخپلې کورنۍ، ښځې او ماشومانو سره یې

خوږې شپې ورځې تیرولې او دهغې څخه وروسته بیا هغه شیبې چې دی مجبور شو، ځان او خپلې کورنۍ ته د یوې مړې ډوډۍ د پیدا کولو لپاره پخلنځیو ته مخه کړي، خلکو ته اشپزي وکړي، دیګونه پاخه کړي او لوښي پریمنځي، او بیا یو، دوه وروستي کلونه چې آشپزي او روزمزدوري به هم ورته نه پیدا کېدله.

د مرګ نه د بچ پاتې کېدو په خاطر وو چې اته میاشتې مخکې یې ښځه او ماشومان بدخشان ته ولیږل، او دی په دې هیله او امید په کابل کې پاتې شو، چې ځان چرته مقرر کړي، ټوله ورځ به یې د یوه صاحب او بل صاحب د دفتر د دروازو تر شا تېرېدله او ماښام به یې د خپلې کونډې او رنځورې وریندار کورته پناه ور وړه، د ورځې ستوماني او په دفترونو ګرځېدل او دشپې تشویشونه. د ښځې او ماشومانو د خېټې تشویش، د لوږې تشویش، د بې کورې تشویش او په لس هاو نور تشویشونه، د شپې په بړستن کې هم د تشویشونو نه خلاص نه و، تر نیمو شپو به ویښ پاتې و، او کله، کله به بیا تر سهاره د خپلو غمونو او سوچونو سره لوبېده او خوب به یې سترګو ته نه ورته.

اته میاشتې همداسې تېرې شوې، نن او صبا، د مقررې طمعه او امید پوره او میاشتې ونیوو، په دې موده کې یو ځل یوه رڼایي، یو امید او یوه هیله ورته پیدا شوه، د کورنیو چارو وزارت څخه یې په یوه ولایت د مقررې مکتوب واخست، کله چې یې مکتوب اخسته ډېر خوشحاله و، په جامو کې نه ځائیده، په زړه کې یې تېر شول، چې که خیر وي تنګي او سختي شپې تېرې شوی، مقرر به شم، کور به ونیسم، تنخواه به واخلم او ماشومان به راولم.

په موټر کې کیناست او د هغه ولایت خواته روان شو. چې دی پکې مقرر شوی و، په لاره کې یې ځو، ځو ځلې په هغه جیب چې مکتوب پکې پروت و لاس کېښود، دوه ساعته وروسته و، چې هغه ولایت ته ورسید، د موټره کوز شو او یو ځل بیا یې په هماغه جیب چې مکتوب پکې پروت و لاس را کېښود، ددې لپاره چې ښه ډاډه شي، چې مکتوب پر ځای او خوندي دی، لاس یې جیب ته ننویست او مکتوب یې راویست، په لوړو، لوړو، قدمونو یې ځان دفتر ته ورساوه دده ډېره بېړه وه، نیغ د مشر دفتر ته ننووت او ژر یې مکتوب د دفتر مشر ته پر میز کېښود، د دفتر مشر بېله لدې چې ده ته د کیناستو بلنه ورکړي مکتوب پرانست، لاندې باندې یې مکتوب وکوت مکتوب یې پر میز کېښود، او ده ته یې په زیر، زیر وکتل وروسته د لنډ ځنډ او مکث څخه یې وویل:

کمبود نلرو

په نورعلی سړه خوله را ماته شوه، ښپو یې سستي وکړه، سر پرې وګرځېد. په ډېره سختي یې ځان ټینګ کړ، یوه شیبه آرام ودرېد، یو سوړ اسویلی یې له خولی ووت په قراره یې د وتو د دروازې خواته وکتل او بې له دې چې څه ووایي نیغ په دروازه ووت.

دی لا په همدې سوچونو کې و چې د واده ځای ته ورسېد، د ماشومانو ګڼه، ګونه ډېر زیاته وه، یوه شیبه یې خپل ټول ماشومان د نظره تېر شول، د هر ماشوم په څهره کې یې د خپل ماشوم څهره لېده، د واده ځای ته ننوت او غلی او آرام په یوه کونج کې کیناست، کله چې په محفل کې د ناستو خلکو سترګې په ده ولګېدې نو هر یوه پوښتنې پیل کړې. مقرري دې څنګه شوه؟ ماشومان دې چرته دي؟ ولې دې ماشومان نه راولي؟ او په لس هاو داسې نورې پوښتنې.

دی دې پوښتنو ډېر تنګ کړ، په قراره د واده دځای څخه ووت په استواره ګامونو نیغ په نېغه د کور خواته روان شو ګړې په ګړې به چابکیده، په زړه کې یې اور بل و، ده خپل تصمیم نیولی و، کور ته په ننوتو یې یو خوا او بلې خوا وکتل، په انګړ کې هېڅوک نه و د انګړ دروازه یې وتړله او دهلیز ته ننوت، یوې او بلې خوا ته یې وکتل، ځان یې ښه ډاډه کړ. چې په کور کې یوازې د هغه د رنځورې ورینداړې څخه چې په بستر کې پرته ده بل څوک نشته.او ټول واده ته تللي دي، په استوارو ګامونو د کور دویم پوړ ته وخوت، د دویم پوړ څخه یې یو ځل بیا حویلی ته وکتل، د دهلیز په کونج کې پروت ګیلن یې را اوچت کړ، او د دویم پوړ تشناب ته ننوت

شیبه پس د نورعلی ټول ځان په سرو لمبو کې سوځېده، د تشناب د کړکی او دروازې نه لوګي بهر ته وتل، یو ځل بیا او د وروستي ځل لپاره هغه ته بیا تیر ژوند لکه د سینما د پردې په څېر مخې ته تیرېده، د عالی تعلیماتو خلاصول، مقرري، واده، ماشومان او د ماشومانو د خولی د پلاره، پلاره د آوازونو اورېدل، د خلکو آشپزي کول د ولایت د چارواکی د کمبود نشته آواز او واده په ځای کې د واده د ګډون کوونکو خبرې.

په نیمه ګینته کې هر څه پای ته ورسیدل مخکې لدې چې دی د ګاونډیانو له خوا روغتون ته ورسول شي، ده د تل لپاره کړاوونو ته شا کړه.

قسمت هفتم

زکوی یار میآید نسیم باد نوروزی

باری در سال ۴۶۷ هجری در زمان جلال الدین ملکشاه سلجوقی که آغاز سال با شروع بهار نزدیک شده بود، به ابتکار عمرخیام شاعر و منجم معروف و دیگر دانشمندان آن عصر تقویمی به نام جلالی ترتیب داده شد و برای ثابت نگهداشتن نوروز، آن را در اول بهار که آفتاب به برج حمل تحویل میگردد قرار دادند. نسبت جلالی به نوروز ماه، در این ابیات "سعدی" و "حافظ" از همین تقویم گرفته شده است:

اول اردیبهشت ماه جلالی
بلبل گوینده، برمنابر قضبان
بر گل سرخ از نم او فتاده لالی
همچو عرق بر عذار شاهد غضبان

× × ×

می اندر مجلس آصف به نوروز جلالی نوش
که بخشد جرعه جامت، جهان را ساز نوروزی

جشن نوروز به بسیاری از کشور های اسلامی تا مغولستان در آسیا و مصر و زنگبار در افریقا رفت. اکبرشاه در هندوستان در سال ۱۵۸۴ میلادی نه تنها جشن های نوروز و مهرگان را با شکوه هر چه بیشتر بر پاکرد بلکه نام های دری ماه ها را نیز رواج دوباره داد

به رونق مراسم جشن نوروز، به ویژه از دوره تیموریان هرات به بعد، یعنی پس از کشف و اعمار آرامگاه سپه سالار بزرگ اسلام امیرالمومنین حضرت علی کرم الله"وجهه" در حومه بلخ، برپایه روایتی که آغاز خلاقت آنحضرت را در نوروز می نمایاند، در شهر مزارشریف مرکز ولایت بلخ افزوده شد.

جشن باستانی نوروز باگذشتن از پیچ و خم تاریخ راه خود را تا عصر ما گشاده است و مردم آن را باراه اندازی میله های عنعنوی در سراسرکشور با همان شکوهمندی دیرین بر پامیدارند. چنانچه در بدخشان هنوز هم بر سنت پارین، این جشن تا به هفت روز دوام می یابد و میله، گلسرخ درشهر مزارشریف که از نو روز آغاز میشود، چهل روز را در بر می گیرد و هزاران تن از شیفته گان حضرت علی کرم الله"وجهه" از سراسر کشور و کشور های دیگر، در مراسم بر افراشتن "جنده" پروانه وار پیرامون آرامگاه خجسته اش گرد میآیند.

درباره آیین ها و مراسم جشن های آریایی در آثار ادبی و تاریخی زبان عربی شرح های مبسوطی را در می یابیم که از آن جمله می توان کتاب التاج یا اخلاق الملوک منسوب به جاحظ، الاثار الباقیه ابوریحان بیرونی و کتاب های مسعودی وابن قتیبه رایاد کرد.

در زبان فارسی دری نیز ابوریحان بیرونی در التفهیم و گردیزی در زین الاخبار از چگونگی برگزاری این جشن ها، یادی داشته اند و اما یگانه کتابی که تنها در بیان مراسم نوروز و آن هم به فارسی دری نگاشته شده است "نو روز نامه" است که تالیف آن به خواجه امام ابوالفتح عمرابن ابراهیم الخیام نیشاپوری که از حکیمان و ریاضیدانان اواخر قرن پنجم واوایل قرن ششم هجری قمری است، نسبت داده میشود.

بر اساس منابع دست داشته، آریایی های قدیم بدین باور بودند که فروهر های نیاکان، در پنج روز پسین سال برزمین فرود میآیند و در شادمانی خانه واده سهیم میشوند. لذا برای رهنمایی فروهر ها، سوی دودمانهای شان، پیش از نوروز آتش میافروختند و برای خوشنودی روان گذشته گان نیایش میکردند و چون به باور زردشتیان فروهری که پاسدار نظام جهان می باشد در این روز به زمین فرود میآید و مردم آمدنش را جشن می گرفتند.

ادامه دارد

چاره ام نیست که روجانب اسعار کنم

ع. سرگردان:

بعد ازین جای ومکان برسر بازار کنم   بعد ازین کار کنم
می کنم کار که تافایده بسیار کنم   بعد ازین کار کنم
چون کفایت نکند عاید و هم پول معاش   بتو میگویم فاش
چره ام نیست که روجانب اسعار کنم   بعد ازین کار کنم
سود خواری شده هر چند اگر سهل ومجاز   نشود رفع نیاز
لاجرم من طلب عاید سرشار کنم   بعد ازین کار کنم
دعوت وپارتی آمده نمایم هر شب   تا بیایم مطلب
برسرگنج نشینم همه را مار کنم   بعد ازین کار کنم
گوش ارباب امرکی شنود داد کسی   آه و فریاد کسی

ورنه مقبول نیفتد که من اظهار کنم   بعد ازین کار کنم
کالروکفش ودریشی نکند چاره کار   راست گویم ای یار
لنگی برسر زنم وپای به پیزار کنم   بعد ازین کار کنم
بوکه تانان من زار به روغن افتد   شیمه در تن افتد
کار قاچاق کنم، چاره ادبار کنم   بعد ازین کار کنم
یا گروه ساخته وپیشه کنم ساز وسرود   تا بیایم مقصود

گوش ها را کر و مردم همه با سار کنم   بعد ازین کار کنم
درد بیعاری و بی ننگی ندارد درمان   راست گویم ای جان!
به که این کهنه مرض گیرم و تیمار کنم   بعد ازین کار کنم
با تظاهر نشود کار زبنیاد نکوی   ره تزویر مپوی
تخم گل کارم و دوری همه از خار کنم   بعد ازین کار کنم

In This Issue:

1- Bush Removes The Bans Which Were Put On Pakistan
2- B-1 Warplanes Bombed Southern Areas Of Iraq
3- Increase In Number Of National Army
4- Drivers Complain About Robbers
5- Different Disease Kill 15 People In Kunar
6- Lack Of Power In Afghanistan
7- National Alliance And Cordiality
8- Eat The Bitter, But Don't Say Bitter
9- Escape From Life
10- Reconstruction Page

اراده
د افغان نشراتي مرکز خپرونه
زیر نظر هیأت تحریر انتشار میابد
مدیر مسوول : ظهور افغان
سکرترمسوول: سید محمد "عادل"
معاون: اسماعیل "تیمور"
موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داود
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است.
کمپوز ودیزاین انجینیر:محمدجمیل "امیری" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد)
تیلفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
۰۷۰۲۷۹۳۰۴

ERADA
Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787
070279304
قیمت فی شماره (۲) افغانی